دافغانستان نوی بڼه



دهر مملکت داجتماعی انکشاف دری کونی ساحی یعنی روغتیا ،ښوونه اوروزنه اوعامی ښیګڼی هغه ته دژوندانه ارزښت لری . افغانستان په دری واړو ساحو کښی بی لدی چه قدرت اودشخصیت تنوع له لاسه ور کړی دیوی نوی بڼی اوڅیری خاونددی، که چیری ددغو دری واړو څخه یوه هیوادته دډیری مهمی موضوع په حیث انتخاب کړو ښائی چه هغه یه پوهنه وی ،له همدغه کبله د ۱۲۹۷ هـ ش کال دخپلواکی نه ور وسته دنوی حکومت دلمړیو کارونو څخه د کوچنیانو دښوونی اوروزنی دپلانو پیل ؤ. هغی وخت کښی دمملکت دتربیوی مؤسسو بنسټ په کابل کښی دیوه عالی اوڅو لمړنیو ښونځیو اودښوونکو دروزنی یومحدود کورس او یو هم عسکری ښوونځی و ،نن ورځ دټولو کوچنیانو اجباری اوو ړیا روزل دمملکت په اساسی قانون کښی شامل دی . سر بیره پردی دلمړنی تعلیم او تربیی دثانوی ، مسلکی اوعالی ښوونو دچټکی پر اختیا په لاره کښی دپوهنی دوزارت له خوا دټولو سویود تعلیم دپاره د آسانتیاؤ برابرولو د یادونی وړومرسته کړی ده لکه چه په تیرو پنځو کلو کښی دمسلکی اوثانوی ښوونځیو دشاګردانو په شمیر کښی په سلو کښی له او یا نه زیات ډیر ښت راغلی دی ، او دپوهنتون دزده کونکو شمیر دوه برابره شوی دی، دغه زیاتوالی یواځی په ښاری سیمو کښی ندی شوی بلکه په کلو اوباندو کښی هم دکلیوالو ښوونځیو شمیر زیات شوی اودزده کو ونکو شمیر یی د ۱۳۳٤ هـ ش راپدی خوا تردوه برابره هم ډیر شوی دی .

دو ګړو په روغتیا کښی هم همدارنګ پرمختګ شوی دی، که څه هم دافغانستان وګړی دعصری طب سره په تیره پیړی کښی بیخی ناآشناؤ او دیوی ډیری ناوړی او کور ورانوونکی ناروغی سره مخامخ ؤ ، نن ورځ هماغه خلك دهغی د یرغل او استیلا څخه په بیره کښی ندی ، ملاریا اوحمای لکه دار تقریباً بیخی دمینځه تللی دی. کوی د کنترول لاندی راوستل شوی، اود کولرا ناروغی تقریبا په تیرو وختو پوری محدوده شوی ده .

۱۳۰۹ هـ ش کښی دا علیحضرت شهید محمد نادرشاه په ارشاد اولار . ښوونه دهیواد صحی ضروریاتو دپاره داوږدی مدی له امله په یولړ پروګرامولاس پوری کړی شو، اوددوی په اراده یوشمیر افغانی زده کوونکی باندینیو هیوادو ته و لیږ دول شول . اعلیحضرت شهید دخارجی ماهرانو په مرسته په ۱۳۱۰ هـ ش دیو دولتی طبی ښوونځی دتأسیس امروفرمایه ، اوددوی په شخصی پیسو په افغانستان کښی دسل دناروغی لمړنی روغتون په ۱۳۱۱ هـ ش کښی ودان شو . دغه پروګرامونو عمومیت وموند اولږوخت وروسته نوری ډیری شفاخانی ودانی شوی او د افغانی ډاکترانو لمړی ډله دخدمت دپاره چمتو شوه . په هرات ،قندهار اومزرشریف کښی داعلیحضرت همایونی محمد ظاهر په شخصی پیسو دښځو روغتونونه بنا شول .

په وروستیو کلو کښی خصوصاً په لمړی پنځه کلن پلان کښی دروغتیاوزارت دمملکت په ټولو صحی ساحو کښی ډیر پرمختګونه کړی دی او س افغانستان نه یواځی یولړ عصری او په نوو وسایلو مجهزی شفاخانی لری بلکه صحی سیاراو ګرځنده یونټونه هم لری چه ډیرولروسیمو ته دستنو اوخال وهلو دپاره چه پخوا به ددغو ځایو دناروغانو غورنه کیده رسید لای شی .

نوری اجتماعی چاری لکه ودانی او کورجوړول، دکلو پراختیا،اجتماعی ښیګڼی اوثقافتی عمومی اصلاح ته هم زیاته پاملرنه شویده. مثلا نوی ودانی که څه هم دفنی اشخاصو اوموادو له بابته ډیر مشکلات لری خو په فوق العاده ډول هم په دولتی او هم په شخصی برخو کښی لکه دخریړوغوندی را زرغونیږی.دډیرو کورونو اواپارتمانونو په ودانولو کښی ددولتی بانکونو پورونو زیاته مرسته کړی ده، دودانیو خاوندان ددولتی بیلوڅانګو له خوا تشویق شوی دی چه یوزیات شمیر متوسطی ودانی په ارزانه بیه اولږ لګښت ودانی کړی .

ځینی کورنی چه نوی کورونه اشغالوی بی له شکه دلومړی ځل لپاره دیو عصری ژوند څښتنان کیږی ، همدارنګه دعادی تعلیم په واسطه دثقافتی ضروری تغیراتو دپاره دلویانو دتعلیم ،دکوچنی دروزنی،دکوردساتنی ، دکلو دپراختیا دپروژ واودعامه روغتیا د زدکړی په شمول کوښښونه روان دی .

څرنګه چه افغانستان دټولو وګړو لپاره دیو ښه ژوند په لټون اوهڅه کښی دی اوغواړی چه انسانی ټولو منابعوته په سوله اوسلم کښی پراختیا ورکړی هری خواته دتحولاتو اوتغیراتو نښی لیدل کیږی .

Rural nurse from village clinic near Kabul.

Kabul University students changing classes. Enrollment has doubled in last four years.

د کابل پوهنتون زد کونکی ټولګی بدلوی . تیرو
څلور و کلو کښې د زده کونکو شمیر دوه برابره شوی دی .

Biology class, Kabul University.

د کابل پوهنتون دبیالوجی څانګه

The College library

دپوهنځی کتابخانه

Engineering students on field project.

دانجنیری دپوهنځی زده کونکی
دعملی کارپه وخت کښی

Air School campus, Kandahar.

د قندهار دهوا ای ښو نځی ساحه



Class in aviation traffic control.

دهوائی ترافیك د کنترول څانګه

Student nurses at Maternity Hospital, Kabul.

د پر ستاری دښونځی زده کونکې
د کابل په زیږ نښون کښې

Ariana Airlines maintenance training class.

د آریا نا افغان هوای شرکت
د ساتنی تعلیمی ټولگی

Arithmetic becomes a game for young primary school students.

حساب دلومې نیوښو نځیو زده کونکوته دلوبې غوندې شوی دی ·

Soils analysis class may bring answers to some of the country's agricultural problems.

دخاوری د تجزیی ټولګی به دهیواد زراعتی مشکلات حل کړی ۰

In-service training of Home Economics teachers.

د کورنی اقتصاد دښو ونکو عملی تربیه .

Emergency surgery at the new Avicinna Hospital.

دابن سینانوی روغتون کښې
دسمد ستې جراحي خونه .



X-ray room at a tuberculosis sanitarium.

دسل دناورغي پهيو سنا توريم
کښې داکسريز کوټه .

Cotton Company hospital at Kunduz.

په‌قندز کښې‌دپښې داتحادیه شرکت روغتون

Father and son at first meeting.

دپلار اوزوی لومړی لیدنه .

Most hospitals give extensive post-natal care to young mothers.

اکثر روغتو نونه د کوچنی ترژ یزید و وروسته د میندو پاملرنه کوی

Infant ward at feeding time.

د کو چنیانو دخو راك ځای ·

A laboratory at the Vaccine Research Center.

د واکسین جوړ ولو یو لابراتو ار

Fresh vaccine being packed for distribution to provinces.

•ناز ه واکسین ولایاتو ته دلیږنی دپاره تیار یږی

Daily chores at a Vaccine Research Center. A villager welcomes visiting nurses to his compound.

دواکسین جوړ ولو مرکز کښې وړځنی کار .
یو کلیوالی خپل انګړ کښې دپرستا رانو هر کلی کوی

Free milk at a Rural Development Center.

د کلو دپرا ختیا مرکز کښې وړیا شیدې

Hundreds of Afghan youngsters take active part in Scout programs.

پسوو نوهلکان اونجونی دڅاروند وی
پرو گرا مو کښې برخه اخلی

Mothers and children at a city playground.

میندی او کوچنیان دښارپه یوه تفر جګاه کښې

Park Cinema, like many others, provides the needed entertainment.

دپارك سینما ،دنورو ډیر وسینما ګانو غوندی دخلکوهر کلی کوی



Employees entering Gulbahar Textile Factory.

کارگران د گلبهار د نساجی فابریکی ته ننوځی





FROM MANPOWER TO MACHINES

As a predominantly agricultural and trading country, Afghanistan has long been able to meet most of its needs with manpower skills alone. Today, however, the country has a growing variety of industries, and with industrial expansion figuring largely in plans for the future, the old ways will no longer serve. It is here that the country faces one of its most difficult challenges, for the changeover from men to machines must be managed against a background of industrial progress which is unfortunately recent.

History reveals part of the story. During much of the 19th century the country's resources were either consumed in a long series of wars in defense of its independence or they were blocked by forced periods of commercial isolation which left little opportunity for industrial and economic progress. Thus, the first modern industrial plants in Afghanistan, a woollen mill and an armaments factory, were not built until the late 1890's.

Independence brought the beginning of a new industrial climate and the reestablishment of international contacts, but the creation of modern industry was still hampered by such adverse factors as shortages of capital, technical personnel and transport facilities. Through government initiative, however, a few small plants were established for the production of matches, leather, shoes, knitwear and cement.

But not until the 1930's was the country able to mark its first substantial industrial breakthrough. Two factors were largely responsible: new road construction which linked heretofore commerically inaccessible provinces with the financial and government centers at Kabul, and establishment of Afghanistan's first bank, the Bank Milli Afghan, which encouraged industrial expansion by lending funds outright to many ventures and joining hands with others in partnership. With the way thus opened, a textile mill at Pulikhumri with a capacity of 14,000,000 meters of cloth per year, a beet-sugar factory at Baghlan with an annual capacity of 5,000 tons, and a cotton processing plant with equipment for ginning, pressing and oil extraction at Kataghan were soon in operation.

Yet, however significant these early industrial gains may have been, they seem small when compared to recent developments under the Five-Year Plan with the help of foreign aid. Between 1956 and 1959, for example, cotton textile production increased nearly 40 percent, and one plant was built—the Gulbahar Textile Mills—with a one-shift capacity of 17,000,000 meters annually. Other industries show similar gains. Artificial silk production, for example, was negligible in Afghanistan before 1955; today the country produces nearly 200,000 meters annually. Again, before 1958 Afghanistan had to import the bulk of its cement supply; today a plant at Jabelseraj has made a good beginning. Deposits of minerals and building stones are being steadily developed and motor workshops, ceramics factories, soap plants and furniture factories are among the many other industries now in operation.

One of the biggest factors behind Afghanistan's growing industrialization, of course, is electric power. And, turning first to water power because present supplies of coal and oil are limited, the country now has 13 hydro-electric plants. These, together with 11 diesel electric plants and two steam-generator electric plants, supply some 83,000,000 kilowatt hours of electricity annually. Meanwhile, recognizing that the country's most critical industrial need is still technical skill, the government is giving every attention to training Afghan youth for responsible roles in the new industrial scene.

The Government of Afghanistan has taken steps to attract both foreign capital and technical skill interested in taking part in the country's many needed industrial developments. Official preparations have been made, to give all possible assistance to overseas businessmen interested in exploring the country's many potentials and setting up new industries.

Skilled workers like these press operators are building new standards for themselves and their country.

ټول ماهر کار ګران دشکنجی ددغو ماشینکارا نو غوندی دخپل ځان اوخپل
هیواد دپاره دنوی ښه ژوند دپرا یز ولو له امله کار کوی



دمت دزورنه ترماشین پوری

افغانستان یواځې دزراعتي اوتجارتي مملکت په حیث دپخوانیو وختو راهیسې قادردی چـه خپل احتیاجـات دبشري ماهرو قواؤ له پلوه پوره کاندی . نن ورځ ددی دپاره چه په هیواد کښې مختلف صنایع دنموپه حالت کښې دی نودمختلفو صنایعو دتوسعې او دهغو درا تلو نکې پراختیا لپاره به دزړو طریقو څخه نور کار وانه خستلی شی . اودهمدی کبله مملکت دیوډیر کلك پرابلم سره مخامخ شوی او هغه دادی چه دخپلو پخوانیو پراختیاؤ په خلاف چه له بده مرغه دهغې هم لږه موده کیږی . انسانی کار په ماشین بدلوی .

تاریخ پرپیښو رڼا اچوی : دهجری دیارلسمی پیړی په ډیره برخه کښې دهیواد ذخائراوصنایع یادخپلواکی په دفاعی جګړو کښې په مصرف رسیدلی یایی دځانګړی تجارت په نتیجه کښې چه دصنعتی اواقتصادی انکشاف موقع بی دومره نه وه موندی را کد پاتی شوی دی. لهمدی کبله په افغانستان کښې امړنی صنعتی عصری فابریکی چه یوه دوهیو اوبدلو اوبله د حربی لوازموفابریکه وه تر ۱۲۶۹ کال پوری تکمیل نکړی شوه .

دخپلواکی بیرته اخیستلو دبین المللی قراردادو دپاره فضاء مساعده کړه، خودعصری صنعت په لاره کښې لاتراوسه څینی موانع اوخنډونه لکه دسرمایی ، فنی اشخاصو اودوړو راوړو دتسهیلاتوقلت موجودو ، حکومت دمشکلاتو سرمسره په خپلو کوششونو کولی شو چه څو کوچنی فابریکی داورلګیتو ، څرمنی، بوټانو ، جامو اوبدلو اوسمنټو دتولید دپاره پکار وا چوی .

تر ۱۳۰۹ کال پوری مملکت پدی قادرنه ؤ چه خپل ډیر ضروری صنعتی موانع لری کړی ، دوه شیان ډیرمؤثرووهغه دنو روسر کونو جوړول چه تجارتی ولایتونه یی دکابل مالی اوحکومتی مرکزو پوری وتړل ، اودافغانستان دلمړنی بانك (بانك ملی افغان) تأسیس چه دصنعتی توسعی تشویق دپاره یی سره له ډیرو مخاطرو پورونه ورکړل ، اودنورو سره یی په شرکتو کښې لاس یو کړ . پدی ترتیب په پلخمری کښې دنساجی یوی فابریکی د۱٤۰۰۰۰۰۰متروپه کالنی ظرفیت اوپه بغلان کښې دقندیوی فابریکی د۵۰۰۰ تنوپه ظرفیت اوپه قطغن کښې دپنبی یوی فابریکی چه دپاکونی ، باربندی اوتیلو ایستلو ماشینونه یی لرل په کار پیل وکړ .

هر څومره که دغه پخوانی صنعتی مفید پیشرفتونه شویدی خوبیاهم دورستیو پرا ختیاؤ په مقایسه چه په لمړنی پنځه کلن پلان کښې په خارجی مرستو شویدی لږمعلومیږی مثلا د(۱۳۳۵) او (۱۳۳۸) کلو ترمنځ ـ دپنبئی ټوکرانوتولیدات تقریبا په سلو کښې ٤۰ زیات شویدی لویوه فابریکه(دګنبهار دنساجی فابریکه)چه دکال ظرفیت یی چه په شپه اورځ کښې اتساعته کارو کړی۱۷۰۰۰۰۰۰متره ټوکردی، پکارلویدلی ده.

نورو اکثروصنایعو دکانواوصنایعو دوزارت په لارښوونه انکشاف کړیدی،اودفوائد عامی وزارت هم مشابه پیشرفت بنئی. څو کاله پخوا د ۱۳۳٤ کال څخه ترمخ په افغانستان کښې دمصنوعي وریښمو تولیدات ډیر لږو مګر نن ورځ هر کال ۲۰۰۰۰۰ متره ټوکر تولیدیږی همدا شان د۱۳۳۷ کال نه پخوا افغانستان خپل داحتیاج وړ ډیره اندازه سمنټ دخارج نه راواردول مګر اوس اوس دجبل السراج د سمنټو فابریکه دورځی نژدی سل ټنه تولیدات لری . معدنی ذخیری او دتعمیراتی تیږو کار مخ په انکشاف دی . د موترانو ورکشاپونه، دچینی جوړولو،صابون جوړولو اواثاث البیت جوړولو فابریکی دهغو ډیرو فابریکو دجملی نه دی چه اوس اوس په کار لګیا دی .

د افغانستان د چټکی صنعتی کیدنی دمهمو سببونو څخه یوه برښنا ده او دهغی سبب ا و به دی ځکه چه د سکر و او تیلی اوسنی ذخیری محدودی دی،په هیواد کښې اوس اوس ۱۱ د اوبودبرښنا فابریکی شته چه هغه ټولی د یوولسو ډیزلی او د و بخاری فا بر یکو سره د کا ل ۸۳ میلونه کیلواته ساعت بر ښنا تولیدوی .

ضمناً اعتراف باندو کړوچه دمملکت صنعتی ډیرزیات احتیاج تخنیکی مهارت پوری اړه لری ،حکومت دافغانی ځوانانو تربیی ته چه په صنعتی میدان کښې وظیفی په غاړه واخلی هرراز توجه کړی ده ،اوس پهسلګونو زدکونکی بنوونځیو کښې لکه د ثانوی تخنیك بنوونځی کښې په زده کړه بوخت دی اویو زیات شمیر د کابل پوهنتون کښې دصنعت مربوط کورسونه تعقیبوی اوزیات شمیر نوریی خارج ته دزدکړی دپاره استول شویدی.

د صنعتی پرمختګ دسیاست بله نښه داده چه دافغانستان حکومت دخارجی سرمایی اوتخنیکی ماهرانو دجلبولو دپاره چه دمملکت په ډیرو ضروری صنعتی انکشافاتو کښې برخه واخلی ډیر ګامونه اخیستی دی .

Jangalak metal work shop near Kabul.

کابل ته نژدی دجنګلك ورکشاپ

Sarobi hydro-electric plant on Kabul River is one of the country's foremost power stations.

د کابل دسین په غاړه د سروبی د برښنا فابریکه ،
چه د هېواد د خورا لویو فابریکو څخه ده

Khanabad hydro-electric plant built by Kunduz Cotton Company.

د خان آباد د برښنا فابریکه چه د پنبی
د اتحاریه شرکت له خوا جوړه شویده



Boghra

Boghra Power House near Girishk provides much-needed electricity for the region.

گرشك ته‌نژدی دبغرا دبرښنا فابر یکه چه‌ددغی سیمی دبرښنا ډیری اړتیاوی پوره کوی

Oil, mostly in the northern provinces, offers new promise for fuel and power.

تیل ، چه اکثر په‌شمالی سیمو کښې پیدا کیږی
دسون اوقوت دپاره نوی زیری ور کوی

Coal, second most important power source in Afghanistan, has increased output 23 per cent since 1959.

دډېرى سکاره، چه‌هیواد کښى دسون‌دوهمه‌درجه
مواد.لل کیږ ی د۱۳۳۸ کال راپدی خوائی استخراج کښى
په‌سلو کښى ۲۳ زیا توالی راغلی دی

Miners at work in Karkar mines.

دسکرو دکان کار کونکی دکر کر په کان کښى



Gulbahar Textile Plant is one of the most modern in Asia.

د ګلبهار ټاجي فابریکه د آسیا د خورا
عصري فابریکو څخه ده

Technician examines geological sample.

تخنیك پوهان دجیو لوجي یوه نمونه څیړي

Shrinking and sizing cloth at Gulbahar Textile Plant.

د ګلبهار دنساجي فابریکه کښې دټوکرانو
هوارول او اندازه کول



Baghlan Sugar Factory processes 35,000 tons sugar beets annually.

دبغلان دقند جوړولو فابریکه‌د کال ۳۵۰۰۰ ټنه‌لبلبو مصرفوی

Pul-i-Khumri textile mill supplies a portion of the national need.

دپلخمری دنساجي فابریکه دهیواد
داړ تیاوو یوه برخه پوره کوی



A valuable by-product, cotton seed oil at Kunduz is prepared for shipment to Kabul.

یو فرعي قیمت داره محصول ،
قندز کښې دپنبه دانې تیل کابل ته
دوړو دپاره تیاردی

Hojary Nojary Factory (joinery and lapidary) produces artistic inlaid marble and lapis lazuli work. The finest quality lapis lazuli in the world is found in Afghanistan.

دحجاری‌اونجاری فابریکه ، دمر مر ښکلی
او دانه نشان ،اودلاجوردو څخه‌شیان‌جوړوی .
دنړی ډیر ښه‌لاجوردافغانستان کښی پیدا کیږی

A finished table top.

دمیزد مخ یوه ډبره

When the Ghori Cement Plant near Pul-i-Khumri is completed, Afghanistan will be supplied with much-needed additional cement.

پلخمری کښې دغوری دسمنټ جوړلوو
دفابریکې په بشپړ کیدو
سره به دافغانستان دسمنټو اړتیاوې
تر ډیرې اندازې لیرې شي





Cement plant at Jabal-us-Siraj.

دجبل السراج دسمنټ جوړو فا بریکه

Electrical distribution system is installed for the city of Kandahar.

دبرښنا دویشلو دستگاه چه‌قندهار کښی په کار اچول شویده



Modern machinery gives an assist to the ancient art of woodworking.

عصری ما شینونه دلر کیو پخو انی
صنعت ته مرسته کوی

A growing metropolis such as Kabul is served by well-equipped bakeries.

د کابل غوندی ورځ پهورځ پراخیدونکی ښار کښی
دډوډی پخولو ډیره مکمله کارخانه پکار
اچول شویده.



Preparation of dough at the Kabul Silo and Bakery.

د کابل سیلو کښی داو پو اخښل

Zenda Banon automotive workshop.

دزنده‌بانانودموټر ترمیمولوور کشاپ

International trucks being assembled for the first time in Afghanistan.

دانټرنیشنل‌لاری‌دلمړی‌ځل‌دپاره
افغانستان کښی‌بوځای کیږی

Private industry plays an important part in the economic life of Afghanistan

انفرادی صنایع دافغانستان په‌اقتصاد کښې لویه‌برخه لری

Shaker ceramics

دشاکرچینی جوړول



Omaid textile factory

دامید دنساجی فابریکه

Kandahar International Airport

رقندهار هوائی بین المللی میدان

حمل اونقل

CONQUEST OF A RUGGED TERRAIN

To landlocked Afghanistan, heart of the great Asian Continent but cut off from all its seas, few needs are more urgent than transportation. Unfortunately, however, few needs have been more difficult to satisfy; for if the country's rugged landscape is the artist's delight, it is the despair of the transport engineer. Not only do the vast expanses of steppes and mountain ranges, the narrow gorges and passes, the swift-flowing rivers, and the uncertain desert sands create stubborn barriers to traffic, but swiftly changing climatic conditions, seasonal thaws and runoffs of snow and ice, and constantly shifting extremes of temperature add their own perverse natures to the challenge. Together, Afghanistan's formidable host of transportation problems imposes a heavy drain on both the country's technical skills and its national economy.

Yet, the short span of the First Five-Year Plan has seen many of the old barriers crumble. The 1956 total of scarcely 1,600 kilometers (1,000 miles) of all-weather main roads and 1,280 kilometers (800 miles) of seasonably motorable roads has by today been increased to some 11,250 kilometers (7,000 miles) of good primary and secondary roadways carved through the country's rugged terrain; the country's meager 1955 airline consisting of only two rented aircraft has been expanded to the present-day Aryana Airlines with a multi-plan system which not only covers the whole of Afghanistan, but also flies from Kabul and Kandahar to Teheran, Beirut, Mecca, Karachi, Delhi, Prague and Frankfürt; and recent construction on several new river projects may soon open the way for river transport.

To the everyday travelers, of course—farmers moving their produce to market and truckers hauling merchandise to and from the factories—roadways are the first concern. And today, thanks to an accelerated roads building program supported by the Ministry of Public Works, during the last five years, a network of roadways links most of the important cities in the country.

Running through the heart of the farmlands and factory districts and beginning at Kabul, the hub, the present roads system runs in a vast circle across the central mountains to Kunduz and Mazar-i-Sharif; west to Maimana, Herat and Farah; southeast to Kandahar; and back to Kabul. Then, like giant spokes in a wheel, other roads stretch away from the hub to touch the country's farthest borders. Among them are roads leading from Kunduz and Mazar to the Soviet border, from Herat into Iran, from Kandahar to Chaman and from Kabul to Peshawar—traditional route for the bulk of Afghanistan's export-import trade with India, Pakistan and other countries, and today well on its way to becoming one of the most heavily traveled roadways in the East.

But although Afghanistan's improving roadways system has taken a long step toward solving many transportation problems, surface transportation alone cannot, of course, serve all the country's needs. Thus, the Afghan Air Authority has begun a bold and far-reaching program to develop an extensive airways system including a number of all-weather ports, several newer and faster aircraft, and a full complement of meteorological, mechanical servicing, navigational, and training institutions.

Certainly, for the Afghan Air Authority, for the Ministry of Public Works, and for others helping the country to keep pace with the ever-growing needs for transportation facilities, the problems will continue to be enormous. Not the least of these are capital and technical skills. But if progress under the First Five-Year Plan is any clue to the future, Afghanistan will have, by the end of the Second Plan, a fully modernized transportation system to her credit.

Carving this road through Tangi Gharo gorge was a monumental undertaking.

تنگی غارو کښې ددغې لارې جوړول یوه شاهکاری وه ·



په لوړه اوژوره محکه بری

افغانستان ، د آسیا داوبی قاري زړه مگر دهغې دټولو سینه څخه لیری اوپه وچه تړلی مملکت دپاره د ترا نسپورت څخه بل ا هم شی نشته . خوله بده مرغه چه دهمدې مهم شکل حل هم آسان کار ندی ځکه که دمملکت دلوړو اوژور څخه آرتیست حظا و خوند اخلی مگر دترانسپورت دانجنیر دپاره دسر خوږدی . نه یواځی داچه لویی اوپراخی جلگی ، دغرو سلسلې ، تنگې د رې لوړ کنډونه ، لیو نی سیندو نه ، اود دښتو بی باوره شگی دترافیک دپاره موانع او خنډونه پیښوی بلکه ژر بد لیدو نکي جوی حالات ، مو سمی گر می ، واور ی او یخونه ، دتودوخی ددرجی مستمر اوډیر تغیر او سخت طبیعت هم لوی خنډونه دی . دافغانستان تر انسپو رتی سخت مشکلا ت د مملکت پتخنیکی چارو اوملی اقتصا د باندی یولوی بارور اچوی .

تراوسه پوری امړ ی پنځه کلن پلان کښی ولیدل شوه چه پخوانی ډیر خنډونه دمنځ نه تللی دی . د۱۳۳۵ کال تو ل تا ل څه کم ۱۶۰۰ کیلومتره دهرموسم اوباسی سر کونه او ۱۲۸۰ کیلومتره موسمی موټرروسر کونه نن ورځ څه ناڅه ۱۱۲۵۰ کیلومتره ابتدائی اوثانوی لاروته چه دهیرادیه خورا ختو اوړو اوژوړو مځکو کښی تیرشویدی رسیږی. دهیواد د۱۳۳٤ کال خورا ضعیف هوائی شر کت چه یواځی دوه کر ایی الوتکی یی درلودی نن ورځ ئی آریانا افغان هوایی شر کت ته چه ډیری الوتکی لری تر قی کړیده ، داشر کت نه یو ا ځی ا فغا نستا ن کښې د نته الوتنی کوی بلکه د کابل اوقندهار څخه تهران ، بیروت ، مکی معظمی ، کراچی ، دهلی، انقری،پرا گ اوفرانکفورت ته هم الوتنی کوی .

دسیندونو دډیرو نو و پرو ژو نژدی جوړول بهدسیدونو حمل ونقل ته چه پهیواد کښې سابقه نلری لار پرانیزی .

البته روزمره مسافرانو ته. هغو بز گرا نوته چه خپل حاصلات بازاروته وړی ، اودموټرانو خاوندان چه دفابریکو څخه یافابریکو ته مالونه وړی راوړی سر کونه په زړه پوری موضوع ده . نن ورځ دسرك دژر جوړونی دپرو گرام څخه چه دفوائدعامی دو زارت له خوا تیر و پنځو کلو کښې اجراء شوی اودهیواد ډیر مهم ښارونه یی سره نښلولی دی تشکر کوو .

د کرهنی مځکو ، دصنعتی سیمو او د کابل په شروع کښی ، داوسنیو سر کو حلقه دیوی لو یی د ایری په شکل د مرکزنه غر ونه تیره شوی قندز او مزارشریف ته بیا لویدیځی خواته میمنی ، هرات اوفراه ته بیا جنوب شرق کښې قندهار ته او بیرته کابل ته ر اگر ځی . بیانو نو ر ی لا ر ی د د ی حلقی نه د هیو ا د لیـر ی سـر حد و تـه غځید لی د ی . د دی جملـی نـه هغه سـر کـو نـه دی . چـه دقند و ز او مـزار شـریف نـه دشوروی اتحاد پولـوتـه اودهـرات نه دایـران ترسرحد او د کا بل نه تو رخم او پیښو ر ته غځید لی دی ، و روستی لار چه دافغانستان ، هند پا کستان اوټولو غربی دولتو سره دتجارت پخوانی اومهمه لاره نن ورځ هغه حالت ته چه ختیز ، نړی کښې به د ډیرو مهمو لارو څخه وی روانه ده .

که څه هم دافغانستان دلارو پرمخ تللی نظام ډیر ترانسپورتی مشکلات حل کړی دی خوسره لهدی مځکنی تر انسپو ر ت نشی کو لی چه پهځانگړی صورت دهیواد ټولی اړتیاوی پوره کړی . نولدی کبله دافغانستان هوائی ملکی ریاست یوستر اواوږد پر و گرام جوړ کړیدی چه دهوائی حمل ونقل سیستم ته پراختیا ورکړی او په هغی کښی د یو شمیر هر موسم هوائی ډگرو جوړول. نو ی اوچهکی الوتکی ، مکمل مترولوژیکی تخنیکی سرویس ، دالوتکو دلارښوونی مر کزونه اوتربیوی مؤسسی شا ملی دی .

یقیناً دافغانستان دملکی هوائی ، ریاست دپاره ، دفوائد عامی دوزارت او دبل هغه چا دپاره چه مملکت سر ه مرسته کوی لازمه ده چه دترانسپورتی آسانتیا ؤ دضروریاتو سرهسم قدمونه واخلی ، مشکلات به ادامه ومومی او زیات بهشی اوهم یی سر مایه او تخنیکی ماهران د ی . کهچیری دامړی پنځه کلن پلان پرمختگ دراتلونکی وخت دپاره سرمشق و گرزؤ نوددوهم پنځه کلن پلان په پای کښی به افغانستان یوډیر عصر ی ترانسپورتیشن په اختیار کښی ولری .

Beautifully rugged terrain poses difficult problem for road engineers.

بنکلی لواړې سیمی دلارو جوړولو ماهرانو ته ډیرمشکلات پیښوی،

Ariana Airlines office serves national and international passengers

دآریانا افغان هوائی شرکت دفتر
دداخلی اوبین المللی مسا فرانو خدمت کوی .

Afghan hostesses returning from a training flight.

پښتنی ملیمه پالونکی دیوی تعلیمی
الوتنی څخه بیرته را ستنیږی .

Afghan technicians assume the important responsibility of aircraft maintenance.

افغانی میخانیکان دا لوتکو په ساتلو کښې لویه برخه لری ۰

Electrical maintenance

دبرښنا مراقبت ۰



Engine overhaul

دانجن رابـــکته کول ۰

BUCYRUS
ERIE

Road construction near Jalalbad.

جلال آبادته نژدی دسرك جوړوا.

Asphalting the road near Torkham. An extensive road-construction program is included in Afghanistan's development plans.

تورخم ته‌نژدی دسرك اسفالت کول .
دافغانستان په‌اقتصادی پلان کښې
دسرك جوړ ولویو ستر پروگرام شامل‌دی .

Modern bridges built by the Afghan Construction Unit.

عصری پلونه « دافغانی ساختمانی دستگاه »
له خوا جوړ شوی دی .

Farah Rud Bridge

دفراه رودپل .

Hashimi Bridge near Herat

دهاشمی پل هرات کښی

Kabul is served by an up-to-date transportation system.

د کابل ښار کښې خورا عصری ترانسپورت خدمت کوی



Private cars at gas station.

دپټرلو ټانک کښې شخصی موټران

Kabul Radio antenna array.

د کابل راډیو د آنټونو قطار

COMMUNICATIONS

مخابرات



ARTERIES OF PROGRESS

Like arteries of progress, communications networks play a vital role in the technical and social development of all countries. In Afghanistan they are doubly important. With the country's road and air transport only just beginning to approach modern standards and many of the distant provinces separated by mountain and desert barriers, much of the burden of linking the growing country to a steady pattern of progress must be borne by dependable communications facilities. Thus, widening telephone and telegraph systems, expanding postal and radio services, and improving production and distribution of newspapers and other printed material must move constantly ahead. Much remains to be done, but substantial gains have been made in recent years.

The country's first postal service, for example, was begun in 1870 as a modest system with offices limited only to Kabul and the major provincial capitals. Mail between cities was carried by swift riders on horseback, an early day "pony express" that remained until replaced by motor carriers, the famed Afghan mail buses, in 1925. Today, however, under the direction of the Ministry of Communications, the country is served by nearly 350 postal centers, and with facilities increased by some 20 percent under the Five-Year Plan, the postal services now handle an annual total of about 3,250,000 pieces of regular mail and another 250,000 pieces of airmail.

Similar expansion in telegraph facilities during the Five-Year Plan increased the number of skilled telegraph technicians by more than one-third and the number of telegraph receivers in use by some 300 percent. Twelve interlocking circuits now handle national telegraphy traffic and, as a member of the International Cable Union, the country is almost as closely linked to distant parts of the world as to its own provinces.

In Afghanistan, however, as in most other countries, the most rapidly growing medium of personal communication is the telephone. The list of telephone subscribers has nearly doubled during the past five years and the number of main telephone lines has grown from less than 2,500 in 1955 to nearly 25,000 today. Also, before the beginning of the Five-Year Plan, Afghanistan had no facilities for making international telephone calls. Today, Kabul is linked by telephone to all parts of the world, with telephone services to New York, London, Paris, Bombay, Teheran, Tashkent and Moscow. Services to various other cities are routed by way of New York or Paris, but plans are underway for more direct extensions to other such international centers as Tokyo, Rome, Munich and Calcutta.

Another fast-growing communications network is building up around the newspaper publishing industry. Kabul has several daily newspapers, two of which, the morning *Islah* and the evening *Anis*, have circulations of more than 15,000. Many of the provinces also have daily publications and the number of weekly newspapers, always large, is still increasing. Most newspapers are bi-lingual and subscriptions to foreign publications in English, French, German, Arabic, etc., are becoming widely popular.

But perhaps the best known of Afghanistan's many communications services is Radio Kabul. A national service directed by the Department of Press and Publications (equivalent of Ministry of Press and Information), Radio Kabul's programming not only offers such traditional radio fare as hourly news broadcasts and the usual variety of musical programs, but also includes such special public service programs as drama, a children's hour, and foreign language teaching classes.

The voice of Radio Kabul is heard throughout the East and it beams daily broadcasts in several languages, including English, Russian and French, toward such far away points as Japan and South Africa. Thus, Radio Kabul, like Afghanistan itself, extends the hand of friendship to all the world.

Newsboys delivering the morning *Islah*, one of Kabul's three daily newspapers.

اخبار والا داصلاح سهارنی چه د کابل‌ددری گونو ورځ پاڼو څخه‌ده خلـکو ته رسوی

دپرمختګ شرائین



د مواصلاتو شبکه دهرهیواد په‌تخنیکی او اجتماعی پراختیا کښی‌لکه شرائین حیاتی رول‌لوبوی ،خوپه افغانستان کښی تردی لاهم‌زیات اهمیت لری په‌داسی هیواد کښی چه سر کونو او هوائی ترانسپورت یی اوس اوس فعالیت شروع کړی او ځان د عصری حمل و نقل او مواصلاتو تأمین ته چمتو کوی، او ډیری سیمی یی یو تر بله د غرو اورغو په واسطه سره بیلی کړی شویدی نو په دی ملك کښی چه دپرمختګ اوترقی په لار روان دی دار تباطاتو لوی‌بار دیواعتما دو ړاو باوری مخابراتی سیستم په‌غاړه دی. نوددی دپاره دتیلفون اوتلګراف دپراختیا ،دپوستی او راډیویی‌خدمتو دتوسعی دور ځپاڼواو نورو چاپی‌موادو دزیاتی‌خپرونی او صحیح توزیع جاری ساتل په کار دی . په ورو ستیو کلو کښی په دی زمینه کښی اساسی اومهم پیشرفتونه شویدی . مګر ډیری چاری لاپاتی دی چه باید اجرا شی .

دهیواد لمړنی پوستی په ۱۲٤۹ کال کښی دیو ابتدای سیستم‌په څیر چه‌یواځی په کابل اودمهمو ولایاتو په مرکزو پوری مربوط ؤ په‌خدمت‌او کارپیل وکړ . دښارونوترمنځ به‌پوسته دچټکو سپروپه‌واسطه‌وړل کیده ،پخوانی(چاپار)سیستم‌ترهغه‌وخته دوام وکړ څوچه‌په ۱۳۰٤هـ کال کښی یی‌ځای دپوستی موټرانو چه‌په (افغان پست سرویس)یی شهرت موندلی ؤ ونیولو .نن ورځ د مخابراتو د وزارت ترادار ی لاندی په ټول هیواد کښی دپوستی دخدمتو لپاره‌نژدی ۲۵۰ مرکزونه شته‌او په‌ دې هکله په پنځه کلن پلان کښی ۲۰ فیصده اسانی زیاتی شویدی دپوستی اداری اوس اوس (۳۲۵۰۰۰۰)قطعی عادی او (۲۵۰۰۰۰) قطعی هوائی پوسته اجرا کوی .

همداراز پراختیا وی‌تیلګرافی آسانتیاوو کښی‌هم مینځته راغلی دی‌پنځه کلن‌پلان په‌موده کښی دتلګراف‌دتخنیکی‌ماهرانو په‌شیمر کښی تردریمی برخی ډیر اودتلګراف دفعالو آخذو په‌شمیر کښی په‌سلو کښی ۳۰۰زیاتوالی شوی‌دی‌اوس اوس‌دولس ارتباطی مرکزونه داخلی تلګرافی چاری اجراء کوی .مملکت‌دتلګراف د بین‌المللی اتحادیی‌دغړی‌په‌حیث دباندینیوهیوادو سره داسی تلګرافی نژدی ارتباط لری لکه دخپلو داخلی ولایاتو سره‌یی چه لری .

لکه په‌اکثرو نورو هیوادو کښی په افغانستان کښی‌هم دشخصی‌مخابراتو چټکه زیاتیدونکی وسیله‌تیلفون دی په تیرو پنځو کلو کښی دتیلفون د مشترکینو شمیرنژدی دوه برابره شویدی ،اود تیلفون داساسی‌مزیو شمیر چه‌په ۱۳۳٤ کال کښی د ۲۵۰۰ نه‌زیات نه‌ونن ۲۵۰۰۰ ته رسیدلی دی . همدارنګ دپنځه کلان پلان ترمخه افغانستان دبین المللی تیلفون تسهیلات نه درلودل ،کابل نن دتیلفون پواسطه دټولی نړی سره ارتباط لری دنیویارك ،لندن ،پاریس ،بمبئی تهران، تاشکنداو مسکوسره تیلفونی ارتباط موجودی ،اودنورو ښاروسره تیلفونی مخابره دنیو یارك یاپاریس په لاره کیږی دنورو بین المللی مرکزولکه توکیو ،روم میونیخ او کلکتی‌سره دمستقیمی‌مخابری پلانونه‌تراجرأ لاندې دی .

دمواصلاتو بله چټکه ډیریدونکی‌شبکه دور ځپاڼو او داخبارونودخپرونو پراختیاده ،کابل څو ورځپاڼی لری دهغی جملی‌نه‌د اصلاح سهارنی اودانیس مازیګرنی ورځپاڼی‌دی‌چه‌تر ۱۵۰۰۰ زیاتی خپریږی اکسر ولایات هم ورځپاڼی‌لری ،اود هفته ایزو خپرونو شمیر هم مخ په زیاتیدودی. اکثراخبارونه په‌دو وژبو خپریږی، اوخارجی مطبوعاتولکه انګریزی ،فرانسوی ، جرمنی ،عربی ، او نورو کښې اشتراك ورځ په ورځ زیاتیږی .

مګر بنایی چه دافغانستان د مواصلاتو ښه معرفی شوی دستګاه کابل راډیووی، دکابل راډیو پروګرامونه چه‌یوملی‌سرویس‌دی اود مطبوعاتو د مستقل‌ریاست له خوا اداره کیږی نه یواځی‌دراډیو کانود معمولی پروګرام نه لکه دخبرونو خپرونه اورنګارنګ موسیقی‌نه‌جوړ شویدی بلکه په‌هغی کښې دعامه خدمت مخصوص‌پروګرامونه لکه‌ډرامی، دکوچنیانو پروګرام او دخارجی ژبو لوست هم‌شامل دی .

دکابل راډیو آوازپه ټول شرق کښې اوریدل کیږی ،اوورځنی‌خپرونی په اتوژبو کوی‌چه‌هغی کښې‌روسی،انګریزی ،فرانسوی‌اوعربی ژبی هم‌شاملی دی، اوتر جاپان او جنوبی افریقی یی غږ رسیږی، پدی ترتیب کابل‌راډیو لکه پخپله افغانستان ټولی نړی ته د دوستی لاس اوږد کړیدی .

Radio Kabul announcer during one of station's many daily news programs.

د کابل راډیو انانسر دور ځنیو ډیروپروګرامو څخه‌په یوپروګرام کښی

"Poetry with Music" is a popular evening show.

ساز او آواز دمابنامینیو
معر وفو ښو ونو څخه دی

Regular children's educational programs bring crowds of eager youngsters to watch and participate in plays and musical concerts.

د کوچنیانو تعلیمی عادی پروگرامونه ،
ډلی ډلی کوچنیان د تماشی دپاره اوډرامو
اودموسیقی کنسرټونو کښی د گډون لپاره
رابولی

Musical shows attract huge radio audiences, fare ranging from folksong and soloists to modern Afghan ensembles.

د رادیوموسیقی پرو ګرامونه ډیراورید ونکی
راغونډوی ، داپرو ګرامونه د کلیوالو
سندرو ، یو کسیزو سندرونه
تر عصری اونوو افغانی سندرو
پوری سلسلهلری

Central control panel at Radio Kabul transmitter. Transmitter can be heard as far distant as South Africa and Indonesia.

د کابل راډیودتر انسمیتر مرکزی پینل کنټرول ،
د کابل راډیوغږ ترجنوبی افریقی
اواند ونیز یاپوری رسیږی

Recording room pre-records many interviews, special service programs for delayed broadcast.

درینکار ډ اخیستلو خونه . ډیر مضمو نونه ، ا
او دوروسته خپرونو مخصوص پرو گرا مونه
د لته ثبتیږی

Motion picture crew on location. Unit has produced several documentaries, feature films, for public showing.

دفلم اخیستو نکو ډلـه ، د فلـم اخیستلو یونټ
څوڅودانی اخبا ری او مستند فلمونه
او دقصو فلمونه دعامونمایشاتو دپاره
تهیه کړی دی

One of the Press Department's film editing rooms.

دمطبوعاتو دمستقل ریاست دفلم اخیستلو
یوه خونه

Telephone lineman at work on Kabul-Kandahar circuits. Number of telephone workers has increased nearly 30 per cent in last five years.

دتیلفون لین‌مین دکابل ـ قندهار پرلین
دکارپه وخت کښې ، دتیلفون دکار گرانوشمیر تیرو
پنځو کلو کښې نژدې ۳۰ فیصده زیات شوی دی

Central switchboard, Kabul telephone exchange. International calls are handled by Afghan operators with special language training.

دکابل د تیلفون مرکزی سوچ بورډ . بین المللی
مخابری دافغانی کار گرانو پهواسطهچه
دخارجی ژبو مخصوصه تربیه لری اجراء کیږی

This air-conditioned automatic telephone exchange at Kabul was built in 1957, has provisions for 5000 connections.

داتومات تیلفون ایر کنډیشن مرکز د ۵۰۰۰ زرو
لینوپه ظرفیت ۱۳۳۶ کال کښې
کابل کښې ودان شویدی



Newest communications equipment, radio-photo, can reproduce photographs flashed by radio from thousands of miles away.

دمخابراتو خورا نوی آلهراډیو فوټو ،دا آله
کولی شی چه په زرومیله لرې ځای ته په راډیویی
څپو کښې عکس ولیږی او دهغه ځای څخه عکس واخلی



Newspapers and other publishing interests are among country's fastest growing industries. Needs are being met by modern equipment like high-speed offset press below.

اخبارونه‌اونورې‌خپرونې دهېواد دژرزیاتید ونکو صنایعو څخه دی دا اړتیاوی
دعصری‌ماشینونولکه لاندینی ګړندی آفسټ ماشین پدواسطه پوره کیږی

Women, like these camera operators in photo-engraving room, are finding new job opportunities in printing trades.

ښځې لکه دغو کار کرانو غوندې
دزنګو ګرافي دشعبې دعکس اخیستلو
. پهطباعتي چارو کښې نوې دندې پیدا کوي

Most type is still set by hand by young apprentices.
Many will later be sent abroad for special training.

ډیر کارونه لا تراوسه دځوانو کارګرانو له خوا اجراء کیږي .
ډیر کسان به دمخصوصي تربیې دپاره خارج ته واستول شي .

Lines of customers keep postal clerks busy. Mail load has increased 25 per cent since 1956.

د مراجعینو کثرت دپوستی مأمورین وزګار
نه پریږدی . دپوستی حمل ونقل د ۱۳۳۵ کال
راهیسی ۲۵ فیصده زیات شویدی

A sorting table at the central post office, Kabul. About half of all Kabul mail is international.

د کابل په مرکزی پوسته خانه کښی دپوستی
بیلولو میز. د کابل نیمایی پوسته بین المللی ده

Mail carriers prepare to make their morning deliveries. Bicycles are common to cities but remote villages are often served by horseback.

پوسته رسانان د سبایی کار لپاره تیاری کوی.
ښارو کښې پوسته دبایسکلونو اوپه لرو کلو
کښې داسونو پهواسطه وړل کیږي

Trucks loading for fast inter-city mail and passenger transport.

دښاروتر منځ دپوستې اوسپرلیو
دچټک رسیدلو لپاره سرویسونه
پکار اچول شوي دي

کرهنه



THE LAND'S GREEN PROMISE

Through a combination of high mountains and scant rainfall, Afghanistan's agricultural hopes have traditionally been caught somewhere between a promise and a problem. In the highlands, heavy mountain snows provide abundant water and rich topsoil along the foothills, but steep inclines make farming difficult; in the vast flat lowlands where farming should be easy, natural water is often hardly known. Thus, less than 10 percent of the country's total land area is cultivated in any given year; two-thirds of this is irrigated; and most of the remaining third is dry-farming.

Yet, 85 percent of the Afghan people are farmers. Wherever water can be channeled and there is space for a plow to hold or flocks to graze—on small plots reclaimed from the hillsides or on multi-acre tracts spread across the valleys—in tiny hamlets and huge villages—a postoral people shape their way of life around the green promise of the land. For despite the rapid development of new industries, Afghanistan's economy still depends on the soil and resources that lie beneath it. Agriculture provides an estimated 70 percent of the country's income, and farm and animal products are the basis of all its exports.

The country's crops are as widely varied as its climate and topography. Sugar cane and citrus trees flourish in the hot, windless shelter of the Jalalabad and Helmand Valleys, for example; sugar beets are plentiful in the moderate climate around Baghlan; and the warm, clear air of the northern provinces, past the Hindukush, brings abundant harvests of cotton and grain.

One crop, however, which is almost country-wide and which provides one of Afghanistan's most important harvests, is fruit. Apricots, peaches and grapes are grown nearly everywhere in the country and from an estimated 1,000,000 hectares of fruit trees and vineyards, harvests yielded nearly 500,000 tons of produce in 1959 and 676,000 tons in 1960. Fruits are especially plentiful around Kandahr and Herat and along the broad Kabul plains. Kabul province also produces sizeable harvests of apples, pears, plums and cherries, while its mulberry plantings along with those in Baghlan, not only yield large fruit harvests, but are an important source of silkworm eggs for the country's fast-growing sericulture interests.

But few areas of Afghanistan can compete with the northern regions around Kataghan, Mazar and Maimana for agricultural significance. Combining high fertility with ample water and vast expanses of natural pasturage for livestock, this area has long been considered one of the country's most important farm areas. Here is the home range of some 6,000,000 head of Afghanistan's famed Karakul sheep; here is grown a substantial part of the country-wide wheat crop; and here, too, is the source of most of the country's expanding cotton crop. One province along Kataghan, produced more than two-thirds of the country's 1960 cotton crop of some 30,000 tons.

expanding cotton crop. One province along Kataghan, produced more than two-thirds of the country's 1960 cotton crop of some 30,000 tons.

Today there is new hope that the abundance of the northern province may soon be equalled by other areas of the country, some of them once barren desert. Through irrigation, soil surveys and new-crop research, the Ministry of Agriculture and other government agencies are already well on the way with projects such as the Arghandab and the Kargha Dams, and the Helmand Valley Authority is to bring new answers to Afghanistan's age-old agricultural problems.

The Helmand Valley, for example, covers nearly half of the country's total land area and includes some of its most arid terrain. When the present valley program is completed, some 85,000 hectares (202,000 acres) of land will be receiving fresh irrigation water through newly constructed canals and distribution systems. Already, much of the new land is under cultivation—a green tide that may one day help to bring a new way of life to all Afghanistan.

An irrigation canal brings fresh water and new promise to a village farmer.





د مځکې د شنه کیدو هیله

دافغانستان زراعت دلوړو غرونو او لږو بارانونو په سبب په عنعنوي صورت دامید او مشکل په منځ کښې واقع دی. په هسکو برخو کښې دغرونو پیړی وا وری ډیری او به او دغرو لمنو کښې د کرهڼې وړ حاصل خیزه خاوره برابروی، خو په اړخیو او ریونده مځکو کښې زراعت مشکلات پیښوی، په پراخو اوهوا رو مځکو کښې چه کرهڼه آسانه ده طبیعي او به په ډیر ندرت پیدا کیږی. پدی ترتیب په یو کال کښې دهیواد دټولی مځکې دلسمې برخې نه هم لږه تر کروندی لاندی نیول کیږی چه دهغې دوه دریمې او بیږی او دپاتې دریمې لو به برخه للمه وی.

تر اوسه پوری دافغانستان وګړی په سلو کښې پنځه اتیا د کرهڼې په کار وبخت دی، په هغو ځایو کښې چه روانی او به موندل کیږی او د کرهڼې مځکه او دژوو ورشو پیدا کیږی داړخیو په لږ و یا ددرو په پراخو مځکو کښې خلك په وړ و باندو اوستر و کلو کښې د مځکې د شنه کیدو په هیله دژوند شپې او ورځې تیروی. دنوو صنایعو دپراختیا سره سره دافغانستان اقتصاد لا تر اوسه هم په زراعتي منابعو ولاړ دی، په اټکلی صورت دافغانستان دعایداتو په سلو کښې اویا برخې زراعت برابر وی، زراعتي او حیوانی محصولات د افغانستان د ټولو صادراتو اساس ګڼل کیږی.

دهیواد محصولات دهغه داقلیم او ټوپوګرافي په څیر راز راز دی لکه چه ګنی او ترشی میوی دجلال آباد او دهلمند دناوی په تود واوبی باده سیمو کښې، او چغندر دبغلان دشاو خوا معتدله سیمه کښې کرل کیږی، او دهندوکش هغې خواته دشمالي سیمو یخه او صافه هوا دپنبې او غلو د کرلو او ډیر محصول دپاره مساعده ده.

یو زراعتي محصول چه دمملکت په هره برخه کښې موندل کیږی او دافغانستان دخورا مهمو محصولاتو څخه شمیرل کیږی میوه ده. زر دآلو شفتالو او انګور تقریباً دهیواد په هر ګوټ کښې پیدا کیږی. په ۱۳۳۸ کال کښې دیوی اټکلی ساحی یعنی یو ملیون هکتار (پنځه ملیون جریبه) دمیوو او انګورو باغونو څخه پنځه لکه ټنه حاصلات لاس ته راغلی وه او په ۱۳۳۹ کال کښې د غه حاصلات شپږ لکه او شپږ اویا زره ټنه ؤ دمیوو باغونه مخصوصاً په قندهار، هرات او د کابل پراخو میدانو کښې ډیر دی همدارنګه د کابل ولایت په یوه زیاته اندازه دمڼو، ناکو، الوچو او ګیلاسو حاصلات ورکوی، او دتوتانو ونی دبغلان دتوتانو په شمول نه یواځی دا چه ډیره اندازه دمیوی حاصل ورکوی بلکه دمملکت دور یښمود مؤسسو دپاره دچنجیو دهګیو لو یه منبع ګڼل کیږی.

د افغانستان ډیری لږی مځکې دزراعتي قدرت له نظره دشمالي سیمو قطغن، مزارشریف او میمنی سره سیالی کولی شی، د غه سیمی چه دتولید عالی قدرت، ډیری او به او پراخه ورشو ګانی لری، دپخوا زمانی څخه دافغانستان دیوی ډیری مهمی زراعتي سیمی په حیث پیژندل شویدی. دامنطقه د څه نا څه شپږ ملیونه افغانی مشهور و قره قلی میږ وروزنځی دی په همدغه ځای کښې دافغانستان دغنمو ډیره برخه کرل کیږی او دپنبې دمحصولاتو ستره منبع ده یواځی، دقطغن ولایت ۱۳۳۹ کال کښې دټول هیوادو پنبې دمحصولاتو چه دیرش ملیونه ټنه کیده د دریو برخو نه دد و برخو څخه لاهم زیات حاصل کړی ؤ.

نن ورځ هیله شته چه دهیواد په نورو سیمو کښې هم چه یو وخت وچی او شاړی وی دشمالي ولایاتو په اندازه پریمانی او آبادی راشی د کرهڼې وزارت او نوری دولتی دایری سرله اوسه داو بولو دخاوری دسروی او دزراعتي نوو محصولاتو په باره کښې دپلټنو له لارې دارغنداب او قرغی دبند و نو او دهلمند دناوی دپروژو په مرسته دزراعتي هغو مشکلاتو دپاره چه افغانستان دپخوا نیوز مانو راهیسی ورسره مخامخ دی دنوو ځوابونو په برابر ولو بوخت دی

د مثال په ډول د هلمند ناوه دشاړو مځکو په ګډون دمملکت دټولو مځکو نژدی نیمایی برخه تشکیلوی کله چه ددی وادی اوسنی پروګرام سر ته ورسیږی ۸۱۷۴۶ هکتاره (۴۰۸۷۳۰ جریبه) مځکه به دنوو ویالو او دویشلو دنوو طریقو له لاری په تازه او بوخړوبی شی، دهلمند دناوی پروژه دسیلاؤنو دمخ نیوی او دبرښنا دقوی دلیاری هم دزراعتي پرمختك پروګرامونه لری چه هغې کښې نوې او عصری تخنیك دکوچیانو میشته کول د کلو پراختیا دروغتیا او پوهنی په ګډون شامل دی همدا اوسی ددغو مځکو زیاته برخه د کرهڼې لاندی ده او کیدی شی چه یوه ورځ هغه دیوی سمسوری سیمی په حیث دافغانستان ټولو وګړو ته دژوند دنوی لیاری په پیدا کولو کښې مرسته وکړی.

Early spring blossoming fruit trees in the Hindu Kush foothills.

Irrigation and cotton go hand in hand to create new resources. Most cotton is raised in the north-central provinces.

پنه او پنبه دنوومنا بعو دپیدا کولو لپاره څنګ پرڅنګ درومی
پنبه اکثر دشمالی ولایاتو مرکزی سیمو کښی کرل کیږی

Clearing a vineyard canal. Grapes are one of the country's principal products.

دتاکونو ددوچی پاکول،انګور دهیواد
دمهمو محصولاتو څخه دی

Mechanized agricultural equipment assumes new importance.

زراعتی ماشینونه نوی ضروریات رفع کوی

Young shepherds herding a flock of spring lambs.

ځوان شپو نکی دپسرلی دوریو یوه رمه پیایی

A flock of karakul sheep grazing on the northern plains.

دقره قلی وریو یوه رمه چه دشمالی سیمو ورشو کښی څریږی .

Grading a karakul pelt.

دقرقلی پوستکو درجه بندی

Farmers compete for the recognition of their efforts at Agriculture Day.

بز ـ گران دبر گر په ورځ دخپلو زحمتونو دنتیجی دښودلو دپاره هڅه کوی

Vast open ranges north of the Hindu Kush provide natural livestock pasture.

دهندو کش شمال ته پراخی اوارتی سیمی طبیعی ورشو کانی لری.

Modern science brings better breeds, higher yield per animal.

عصری طریقی نسلو نه اصلاح کوی
اودژوو محصول زیاتوی

Hanging grapes at Kares-i-Mir. Many delicious varieties of grapes are grown throughout the country.

کاریز میر کښې څوړند انګور .دانګورښه اوډېر انواع دهیواد هره برخه کښې پیدا کیږي.

Scientific spraying of vineyards protects one of Afghanistan's chief fruit products.

دا نګو رو با غو کښې په عصری طریقه ددواؤ شیندل دافغا نستان یوخورا مهم محصول دآفاتو څخه ساتی

Varieties of excellent fruit and succulent melons abound.

داعلی میوو انواع او داوبو ډکی هندوانی

Conservation and propagation of trees is an important facet of the agricultural program.

View is of tree farm in the Helmand Valley.

دونو ساتنه او ترویج دزراعتی
پرو گرام یوه برخه ده . دلته دهلمند ناوه
کښی دونوزوغلی لیدل کیږی

International Trade Fair at Kabul.

COMMERCE

تجارت

CATAGHAN
COTTON
KHOJAGHAR
TYPE A. F.G.
BALE No 3985
GROSS 147
NET 143K



NEW GROWTH FOR AN OLD POTENTIAL

If most of the Afghan people are hard at work producing the country's all-important agricultural products, the rest of the populace is no less busy processing and marketing them. Today the flow of goods both in and out of the country promises new growth for the country's old potential as the center of trade between East and West. During the last seven years Afghan exports have increased nearly threefold, while imports have grown even higher, now totalling nearly four times the level of seven years ago.

One Afghan product, Karakul, the silky, rich-hued fleece of young lambs, is not only the country's largest dollar earner but provides a livelihood for more Afghans than perhaps any other single commodity. Widely misnamed as Persian Lamb, Karakul is a popular favorite in world fashion centers and was for many years almost exclusively of Afghan origin. Today, facing keen competition from less prized but plentiful lambskin pelts from the Soviet Union and South West Africa, Afghanistan is far from being alone in the Karakul market but world demand has nevertheless brought an increase in the country's output of superior skins to a peak of nearly 3,000,000 pelts per year.

Fruits, fresh and dried, always close rivals of furs and wool for importance to Afghan commerce, have also shown substantial market expansion. Thus crop increases coupled with new processing plants and improved transportation facilities were able to supply an increase of nearly 6,500,000 kilos (14,300,000 lbs.) of fruit exports in 1959 alone.

But while these and a host of other Afghan products are finding ready markets abroad, the country's home needs are increasing even faster. Steadily rising living standards and growing demands of expanding local industries require services and materials that the country is as yet unable to supply in full. Consequently, diversification of primary production, improvement of product quality, and trends toward more modern business practices have been developed by the Ministry of Commerce and other government departments in recent years. Examples of this are the current proposals to improve arbitration procedures in commercial disputes and steps to encourage the entry of responsible foreign traders into Afghan commerce. Ten years ago special licenses were required of foreign traders conducting business in Afghanistan; today there are no discriminatory regulations or taxes for such businesses. Instead, special incentives are offered to foreign capital interested in coming into Afghanistan with commercial or industrial projects.

At present, the Government regulates the importation and distribution of certain basic items in order to achieve price stabilization for essential commodities, but the chief means of consumer goods distribution to the Afghan people is through the thousands of privately owned shops in the picturesque bazaars found everywhere in the country.

Today, bazaars in the larger cities such as Kabul and Kandahar, Herat, Mazar-i-sherif etc. can boast modern bank buildings, airline offices, insurance companies and department stores where shoppers can find items ranging from bicycles and electric refrigerators to transistor radios and tape recorders; and everywhere, of course, the signs of a new technology are dominant—tire shops and gasoline stations, radio and electric repair shops, photographers' shops, hardware stores and pharmacies. But a mainstay of Afghanistan's domestic commerce is still the long rows of colorful little shops, their bright fronts piled high with oranges and grapes or textiles and shoes. Here vendors and craftsmen operate family businesses which often date back several generations.

Bales of standardized high-quality cotton are ready for export.

